شايسته زماني فبروري ۲۰۰۵

# جګړې او نوې کال

د نســـــــلونو نســـــــلونو دغه جنګ
دا ترخو به يـــو مونږ په وينـــــــو رنګ
کــــه مې خان بابا(۱) د انګريـــزانو سره وه کړې
په بله کــې پرون مې کورنۍ ده کـــړيدلې
خــــو دا نن چې کومـــــــه بله ده روانه
پوښتـــــنه وکــــړم چې ولې زه لـــه چانه

پـــــرون چې وو ښکلې زما وطن افغانستان
کله چې لاړم خو مــــره شو مــــــــه زه حيران
کاش چې مې کنډرې وچ باغونه لـــيدلې نواى
ستا په حال چې مې بيا دومــــره ژړلې نواى
د نوي کال خوشـــــــالۍ مې نـــه لـــيدلې
د جګړې او ښــــکې هــــرې خواته بهيدلې

د ماشـــــــومانو د ځغستا شور غوغا نه وه
خوشالتيا خو اننګـــــو کــــې د هيچا نه وه
ګلان د پسرلي خو د جــګړې خزان وو رژولي
څه هم وچکالـــــــۍ او نه باران وو سوځولي
که جــــــګړه ختمه او لاسونه سره يو کړو
د وطن په رغيدو کي خپل سوچونه سره يو کړو

تــیر به د ناخوالو او تورتمونو دا دوران شي
ښکلې افغانــستان به ځو کلونو کې ودان شي
ورشو ګانې به خیـــــــــرازه او شنې شي بیا
خـــــــــــواړه پریمانه ګیډې مړې شي بیا
ګـــــــران افغانستان به ودان کړو مونږه
درست جهـــان کې بې اوچت نشان کړو مونږه

لیکونکې: شایسته زماني
ژباړونکې: عبدالرحمن زماني
(۱). غازي میرزمان خان کونړی